## مطبوعاتي اعلاميه

### د نبوت پر تګلاره د دويم راشده خلافت د بيا تاسيس لپاره د خلکو د پراخ ملاتړ په ليدو د حسينې مخ پر ځوړ رژيم ووېرېده او په ډېرې بې شرمۍ يې پر حزب التحرير او د خلافت پر دعوتګرانو دروغ او تورونه ولګول

(ژباړه)




د ۲۰۱۸م کال د ډيسمبر په ۱۵مه د حسينې حکومت د يو کس په اړه چې «مهدي مسند سايميم» نومېده او د «داکه باريدهارا دوز» له سيمې څخه و، د دروغو خبرونه خپاره کړل، چې نوموړي د پوسټرونو په لګولو سره د عکاس «شهيد علم» پر وړاندې د محکمې د دوسيې د بېرته اخيستلو غوښتنه کړې وه او دا خبر بيا له رښتينوالي پرته ځينو ټلويزيوني شبکو خپور کړ. د همدغه خبر پر اساس له نيول شوي کس سره په انګليسي او بنګالي ژبه پوسټرونه موندل شوي دي، چې د ښار په ځو برخو کې يې لګولي وو او په هغه کې يې د شهيد علم د محکمې د دوسيې غوښتنه کړې وه. مهمه مسله دا ده چې ادعا کېږي شهيد علم د حزب التحرير غړی دی. موږ دا ښکاره دروغ په کلکو ټکو غندو او حزب التحرير له نيول شوي کس او يادو پوسټرونو سره هېڅ اړيکه نه لري. موږ حتی له دغه کس سره نه اړيکه لرو، نه يې پېژنو او نه مو هم د شهيد علم لپاره کوم عمل کړی دی.

له همدې امله د دغه حکومت لخوا غولول شوو خبري رسنيو ته نصيحت او يادونه کوو، چې حسينه هغه چارواکې ده چې له دروغو پرته بل څه نه وايي او څه ډول چې ځان خلکو ته ښيي، داسې نه ده. د مخلصې ډلې «حزب التحرير» پر وړاندې د هر ډول بې بنسټه خبرونو او تورونو خپرول، په حقيقت کې يو ناروا عمل دی؛ چې په دې سره به د خلکو په منځ کې خپل ارزښت او باور له لاسه ورکړئ. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ﴾ [هود: ۱۱۳]

***ژباړه:*** *او پر کافرانو او مشرکانو تکیه مه کوئ، ګنې بیا به مو د دوزخ اور راګیر کړي. یوه شئ چې له الله سبحانه وتعالی پرته هېڅ داسې دوستان او سرپرستان به پیدا نه کړئ، چې تاسو ته پناه درکړي او له هر ډول شر او زیان څخه مو وساتي. نو پر کافرانو او مشرکانو له تکیې کولو وروسته الله سبحانه وتعالی درسره مرسته نه کوي او هغه مهال مو پر خپلو دښمنانو بریالي کېدلی نه شئ.*

باید ووایو، هغه دوامداري مطبوعاتي اعلامیې، بیانونه، پوسټرونه، ناستې او تفاعلونه چې موږ یې کوو، د رسنیو په ګډون د ټولنې په ټولو برخو کې خلکو ته زموږ هویت ښیي. په ځانګړې توګه څه باندې یوه میاشت وړاندې مو بېلابېل فعالیتونه وکړل، چې له هغو څخه د «ملي ټاکنې به په دغه ظالم حکومت کې هېڅ بدلون را نه ولي او نه به د خلکو وخیم حالت بدل کړي؛ بلکې د خلکو د ازادولو لپاره یوازنۍ لاره د حزب التحریر تر قیادت لاندې د نبوت پر تګلاره د دویم راشده خلافت بیا تاسیسول دي.» تر سرلیک لاندې د بروشرونو او پوسټرونو لګول وو. څو په دې سره په راتلونکو ټاکنو کې د استعمارګرو پر وړاندې د واکمن عوامي ګوند او د بنګله دیش د ملتپال ګوند د مشرانو چاپلوسي او غلامي بربنډه شي او له بل لوري خلکو ته هغه سمه لاره وښودل شي چې اسلامي خلافت څه ډول کولی شي خلک له دغه وخیم حالت څخه را وباسي او د نړۍ په کچه یو قدرتمن هېواد شي. د خلافت د بیا راوستلو او حزب التحریر لپاره په دغو فعالیتونو کې د خلکو ملاتړ د پام وړ و او ښکاري چې خلک د حسینې د قدرت او د هغې د رژیم ړنګېدو ته په ډېرې بې حوصله ګۍ سره په تمه دي. نو په دې ډول شیطاني اقداماتو یعنې د یوه نامعلوم کس په نیولو او له جعلي پوسټرونو څخه په ګټې اخیستلو سره د حسینې مخ پر ځوړ حکومت او د هغې لنډغر کسان د قانون په اجرایوي بنسټونو کې په ډېرې بې شرمۍ د الله سبحانه وتعالی د دین او د راشده خلافت د بیا تاسیسولو لپاره د سپېڅلي دعوت پر وړاندې ښکرور دروغ خپروي.

له همدې امله ظالمه حسینه باید پوه شي چې د خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تګلارې څخه په ربښتینې توګه پیروي کوي، نو هغه څه چې زموږ پر وړاندې هغې د شیطان په جامه کې پلان کړي وو، څه نوي شی نه دي؛ بلکې تر دې وړاندې یې هم دا ډول اعمال کړي وو. بله دا چې زموږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه ټول اصحاب او یاران هم د قریشو د مشرانو له همداسې بې بنسټه تورونو سره مخ شوي وو، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې د لېوني، شاعر او ساحر لقب کاراوه؛ خو هغه ټولې دسیسې ناکامې شوې او اسلامي دولت په مدینه منوره کې تاسیس شو. په همدې توګه حزب التحریر به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تګلارې په پیروۍ سره په دې توانېږي چې دا ټولې شیطاني دسیسې شنډې کړي

او د امت سرنوشت ټاکونکې قضیه به په لاس کې واخلي، چې هغه ان شاءالله د نبوت په تګلاره د دویم راشده خلافت بیا تاسیس دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا﴾ [اسراء: ۸۱]

***ژباړه:*** *مشرکان ووېروئ او ورته ووايئ: حق راتلونکی دی (یوازې د الله سبحانه وتعالی بندګي، یو اسماني او عادل دین دی) او باطل د له منځه تلو په حال کې دی (د ډېرو خدايانو بندګي، یو تباه کوونکی او ظالم دین دی). په اصل کې باطل تل له منځه تلونکی دی (په پایله کې تل حق او حقیقت بریالی دی).*

**د حزب التحریر-ولایه بنګله دیش مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۰۸/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربیع الثاني ۹مه**

**۲۰۱۸م، د ډسمبر ۱٦مه**